محمد نقیب تره خیل

۲۰۱۲/۰۱/۳۱

# د ملت په پالیز کی زرغون کړی شین ګلی دی کرزي وباسي

ممکن تاسو به یی بل څه نومه وی، خو زموږ د سیمی پالیز کارو شین ګلی نوملي. شین د خړ او سپیره ضد ده، په ړومبي سر کی دغه نوم د او ریدونکي په ذهن ښه لړیږی ځکه چی زرغونتیا او سمسورتیا یی سترګو ته انځوریږي. لیکن دا شین ګلی ګیاه ترخړتیا او سپیره تیا زیات زړه ځبیښونکی او روح وژونکی دی. پدی چی پالیز کار به د یوخروار هیلو په تمه ځمکه چم چم واړه وي. په یو قد او قامت به جوی په کی وکیندي. د پوښتو په سر به د جمبړخیالو، بادرنګو.. زړي د منځ او مسافي په مراعت په کی ښخ او په سر به یی توپی جوړي کړي. دوه میاشتی وروسته به هاغه سپیری پوښتی په ګردښو شخو شنو پانو او اوږدو، نریو ابداره، زیړو بویارو چی هربندکی یی غوټۍ او زیړګل بند وي ښکلی شی. څانګی او بویاری به د مینانو په خیر یوله بله تاوو وي، ګڼتوب به دی خطا باسي ته به وای چی یو په بل کی شنی شوی. په کتو یی دخاوند دلاسو تناکی او د ټکنده غرمو خولي هیری شی. بیا د پلتو(بچو)په لیدلو سره یی لاس په خارښت او مچ یی کړي. د بوټو د زور او جوش نه انګیري چی پالیز به زورورحاصل وکړی. اونۍ وروسته به می د واسکټ جیبو نه له روپیو وپړسیږي. هره ورځ به د جووو په منځ کی ګرځي لکه څه چی یی ورک کړی وي، خو هغه به غوټۍ ګوري چی بچي شوی او بچي له نښه شویو لوټو تیرشوي کنه.

د څښتن یی هغه وخت خواه شنه او زړه وځبیښل شي چی پالیز یی داسی دریدلی او میخ کړی په نظر ورشي لکه ګلم جمو به چی د ښارنو، ناحیو او کلیو په کوڅو کی پټ څؤ نیو لي وه. په خوله به یی لارویانو ته غږ وکړ او په لاسو به یی وسله ورته سیخه کړه ترهغه څه د شا کسان دی راځي پر ځاي دی میخ شه، کنه دهغوی تیښته د تا مرګ ده. ښائي پالیزسترګی سوي وي پدی ګومان یی خاوند بیا ځان تیر باسي. یو دوه ورځی تری مرور یږي له پخلاینی وروسته چی ورننوځي څه ګوري همغه شان زبون وهلي وي. د مرض د موندو لپاره یی څنګ او څټ لټوي، که ګوري په خواکی یی لعنتي شین ګلي شک وي. نیمه ګوته یاسمندي پاڼی رواش ته ورته سپینه پنډه څانګه، بوټي ته سریښ وي، لکه د ستوني سرطان چی ناروغ خپک کوي او په کړاو یی وژنی شین ګلي هم ورته بوټي تر ستونی نیسي او وچه وي یی. د هغه په لیدو د پالیز کار شونډی وچی او رنګ یی زیړ شی لاسونه مروړي دنګ ورته پاتی شي.

د ګاونډیو په استخباراتي فارمو کی قلمه شوي او روزل شوي شین ګلي چی پر افغان واکمنۍ کی ۱۸کاله پخوا نهال شوي وه. څلور کاله یی د ملت په ستوني داړی خښی کړي وي. رعایت چی څومره کړیده هغوي هومره زیات مستیدل عوامو له حیا نه سوڼ نه کوه دوي له بی شرمی نړۍ خبره وله. ولس پخپل مال خوله یی ور پټوله خو بی ننګو عفت یی هم غوښته. عزت چی د افغانیت روح او جوهر ده. نو د هغه د ساتلو په خاطر ولس طالبانو ته مټ ورکړ د څلورو میاشتو په دننه کی یی ټول شین ګلی په ټول ملک کی للون کړ.پوره پنځه کاله مړا وي وه.

مثمر بوټی په اندکی ښوریدا وچیږی لیکن ارزه ګیاه که دڅارویو په خیټه کی فاضله هم شي یا یی خزلی باد او بارران خندکو او ډیرانو کی ډیری کړي وي په مجردی چی هغه حیواني سره پټي ته ورسیږی او یا لمر وهلی او سولیدلی ډکي له ډیرانو واپس شمال کروندی ته ویسي بیا هم شنه کیږي. دسیمی او نړۍ په استخباراتي لابراتواروکی سیاسي شین ګلیان امریکایانو او انګریزانو له خندکو او ډیرانو نیم ژواندی راوه ایستل او په کرونده کی یی تیت کړه. کرزي خاشی خاشی راټول او یو یو یی په الله او بسم الله په لمن کی واچول د ولسوالیو ولایتو او وزار تو په ګلدانیو کی نهال کړل. د پغنه ئی بیل نه پس یی سری او اوبو کولوته ډیۍ سو. للون یو دم وزوقیده. له بی حده مستۍ یی بجګي شرق غرب شمال جنوب ته خواره او د پالیز په سر څپولی سول دبوټو هډ یی وځبیښه او لغړ ډکي یی وګرځول.د پالیز په رژیدنی او دللون په سمسورنۍ د کرزي زړګی یخ نشو په شین ګلیانو باندی یی د سودا ګرۍ او د امنیتي کمپنیو قراردادونه،دبیارغونی ټیکی او د انجوګانو دجواز ورکولو امتیازونه پیرزو کړل، دزور او زر په خلعتو یی پرعرب، عجم پر یهودي اوعسایی پرهندو او بودا یئ وپیژندل. فارمي للون خو پالیز ګړوت کړ اوس یی د پټي خوړلو ته لړلی. که کرزي ځان د پټي باشي او اجاره دار نه ګڼي. د محصول په خیر یی پر ځمکه هم زړه بایللی وي، د شین ګلیانو په وړاندی دی په زرګري جنګ او کنایه ویناوو ملت د تیر لسو کالو په شان نه غولوي. ځکه نن هغوی نه په پټکو بیریږي او نه په انعامو اصلاح کیږي. یوازنۍ دعلاج لاره یی داده څنګه چی پرون یی د ګوتو په څوکو نهال کړي. نن دی لاسونه په ناړو لامده او یو یو دی قؤده کړی. بوډ بوډ دی وباسی. که یی چغ پغ ایسته او شوکاری یي اچولی بیا دی خوله وسپخوي ټول رازونه او دسیسی ئی ملت ته رسوا کړي. که د خاوری په دفاع کی کرزي خان ووژل شي. نوموړی به د لوی آرمان شهید ونومیږي او ملت به یی دوعاګوي و ي.

په درناوی.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ